# په افغانستان کې د مروجې ګروۍ (بيع الوفاء) شرعي حکم


**نچوړ**

الحمدُ للهِ ربِّ العالمينَ، والصلاةُ والسلامُ على سيدِ الأنبياءِ والمرسلينَ محمدٍ، وعلى آلهِ وصحبِهِ ومن اهتدى بِهديهِ إلى يومِ الدينِ، وبعدَ:

په افغانستان کې د مروجې ګروۍ د مشروعيت موضوع د زياتو اهل علمو، سوداګرو او عامو خلکو پام ځانته را اړولی. ځرنګه چې په اصل کې موضوع بيع الوفاء ده او بيع الوفاء په خپل ذات کې اختلافي ده، د شرعي کيفيت په اړه يې ګڼ اقوال شته، ځينو بيعه ګڼلې، ځينو د عوض په شرط قرض ګڼلی او نورو بيا د ځانګړو خصوصيتونو لرونکی مستقل عقد ګڼلی، خو کله چې د ګروۍ نوم ورباندې کېښودل شو، پېچلتيا يې نوره هم زياته شوه.

زموږ د هيواد اهل علمو هم د بيع الوفاء په اړه اختلاف کړی، ځينو روا او نورو يو حرام عقد بللی. د حيرانتيا ځای دا دی چې زياترو په بشپړ اطمينان سره د هغه نامشروعيت منلی، د مقابل لوري لاره يې بنده کړې او د هغوی عمل يې په پوره جزم سره حرام، فاسد او باطل بللی.

ځرنګه چې موضوع اختلافي ده او په اختلافي موضوعاتو کې نظر ورکول جواز لري، خو د مقابل لوري له نظر څخه انکار - هغه هم په داسې حال کې چې د خپل نظر لپاره يې په معتبر دليل استناد کړی وي- جواز نه لري.

ځرنګه چې دا معامله زموږ په هيواد کې دود ده، نو خامخا به خلک په دې اړه په شک او ترديد کې وي، چې روا يې وبولي که ناروا؟ دا موضوع ځکه تحقيق ته اړتيا لري چې د مسلمانانو داسې يوه کړنه ناروا ګڼل، چې سلګونه کلونه يې په هغې عمل کړی وي، بېځايه هغوی په تنګسه او حرج کې غورځوي. د موضوع د څېړنې ميتود توصيفي تحليلي دی، چې په پای کې استنتاج هم بيان شوی او کوښښ شوی چې د مخاطب پوښتنو ته په هر اړخيز او قناعت ورکوونکي ډول جواب وويل شي.



**کليدي کلمې:** بيع الوفاء، ګروي، بيعه، قرض، شرعي حکم.



دعوت
مجله علمی تحقیقی
سال ششم، بهار و تابستان ۱۴۰٤هـ ش
شماره مسلسل ۱۲
REG code: RCTD - PNJR- 00+12-22
ACRED code: RCTD- PNJA+00-4-23



**دکتر شیر علی ظریفی**
د دعوت پوهنتون د فقه او قانون د ماستری
برنامې استاذ
zarifi160@gmail.com



دریافت مقاله: ۱۴۰٤/۰۲/۰۹
پذیرش مقاله: ۱۴۰٤/۰٦/۰۵

www.dawat.edu.af
Journal@dawat.edu.af

**Abstract**

The legitimacy of the commonly practiced form of mortgage (Bay' al-Wafa) in Afghanistan has drawn the attention of many scholars, businesspeople, and the general public. At its core, this practice relates to Bay' al-Wafa, a contractual form that is itself a matter of scholarly disagreement. There are varying views regarding its legal classification: some consider it a form of sale (bay'), others see it as a loan conditional on collateral, while some regard it as a distinct contract with specific characteristics. The matter has become even more complicated since it began to be referred to as a mortgage (grawi). Afghan scholars have also differed in their opinions on Bay' al-Wafa—some deeming it permissible, others declaring it a prohibited contract. What is surprising is that many scholars, with full confidence, have ruled it illegitimate, blocked any alternative interpretations, and firmly declared the practice to be unlawful, invalid, and religiously void.

Given that the matter is disputed and that issuing opinions on contentious issues is permissible in Islamic jurisprudence, it is not acceptable to entirely reject an opposing view—especially when it is backed by valid scholarly evidence. Since this form of transaction is common in our country, it is natural for people to be confused and unsure whether it is lawful or not. This makes the topic worth investigating, because labeling a practice followed by Muslims for centuries as unlawful—without thorough study—would unfairly place people in difficulty and distress. This study uses a descriptive-analytical method, with conclusions drawn at the end. The aim is to answer the audience's questions in a comprehensive and convincing manner.

**Keywords**: Bay' al-Wafa, Mortgage, Sale, Loan, Sharia Ruling.

Dawat
Academic
Journal

Sixth Year, Issue 1
(Fall & Winter 2025)

Volume
12

Received: 2025-04-29
Accepted: 2025-08-28

www.dawat.edu.af
Journal@dawat.edu.af

**سریزه**

په افغانستان کې د مروجې ګروي صورت داسې دی چې یو شخص د عقار (ځمکې) مالک، خپل عقار بل شخص ته د دواړو په جوړښت، د پیسو په مقابل کې د ګټې اخیستلو لپاره سپاري، په دې شرط چې کله بې پیسې بیرته مشتري ته ورکړې، نو عقار به بیرته لومړي مالک ته ورکول کیږي. مشتري (ګرو اخیستونکی) دا ځمکه پلورلی نه شي، خو کرلی بې شي، پکې اوسیدلی شي، او په کرایه بې هم ورکولی شي.

څرنګه چې دا تړون د اسلام په اوائلو کې مروج نه وو، نو پخوانو علماوو بې په صراحت سره احکام هم نه دي بیان کړي، که څه هم د دوی له عامو اصولو څخه د دې تړون حکم څرګندیږي، خو په شپږمه هجري پېړۍ کې د مصر او د ماوراء النهر په سیمو کې دا ډول تړون عام شو، نو د حنفي مذهب ځینو متأخرو (وروستویو) علماوو بې د جواز فتوا ورکړه.

څرنګه چې دا تړون له بیعې سره مشابهت لري، ځکه یو لوری جنس ورکوي، بل لوری پیسې ورکوي؛ نو بیعه ښکاري، خو توقیت پکې دی، بیعه خو دایمي وي، او دا لنډمهاله عقد دی، او په بیعه کې داسې شرط راوړل چې ته به مبیعه خرڅولی نه شې، جواز نه لري او بیعه فاسدوي، نو عامه بیعه نه ګڼل کیږي.

دا تړون له ګروي سره هم مشابهت لري، ځکه د پیسو د تضمین په مقصد د جنس له ځان سره ساتل ګروي دی، خو ګرو د نقدو په مقابل کې نه وي، بلکې د دین (پور) په مقابل کې وي، او همدا راز له ګرو شوي جنس څخه استفاده جواز نه لري، نو اول خو دا عقد ګروي نه دی او که ګروي وګڼل شي نو بیا د ګټې اخیستلو له کبله سود پکې دی او روا نه دی.

او دا تړون له قرض سره هم مشابهت لري؛ ځکه نقدې پیسې پکې ورکول کیږي، خو په مقابل کې بې جنس د ګټې اخیستنې په مقصد اخیستل کیږي او هر قرض چې ګټه جلب کړي سود ګرځي؛ نو له دې کبله دا صورت هم جواز نه لري.

هلته بله منل شوې فقهي قاعده ده چې هره پېښه چې عامه شي او خلک اړتیا ورته پیدا کړي، او پرې اخته شي، نو هغه پېښه جواز پیدا کوي، البته د خاصو ظروفو او شروطو په شتون کې.

د پورته متضادو عناصرو د وجود له کبله د اوس زمانې مبلغین، پوهان او عام خلک هم د دې مسئلې په جواب کې سره مختلف شوي نو اړتیا وه چې یوه پرېکړې خبره پکې وشي، چې تر زیاتې کچې قناعت رامنځ ته کړي.

ځکه مې وغوښتل چې په دې هکله د خپل توان په محدوده کې څېړنه تر سره کړم، الله دې پې د اجر او ثواب لامل وګرځوي.

**د څیړنې پوښتنې**

په دې مقاله کې لاندې پوښتنو ته ځواب ویل شوی:

اصلي پوښتنه: آیا زموږ په هیواد کې دا مروج تړون چې ګروي ورته وایي، روا ده که ناروا؟

فرعي پوښتنې

١. د شرعي ګروی او بیع الوفاء ماهیت څه دی؟

٢. د دواړو شرعي حکم څه دی؟

٣. که په عقدونو کې د الفاظو او معناګانو تر منځ ټکر راشي، کوم یو ته اعتبار ورکول کیږي؟

۴. زموږ په هیواد کې د مروجې ګروی ماهیت څه دی؟

۵. د افغانستان په قوانینو کې د بیع الوفاء حکم څه دی؟

۶. د افغانستان په مدني قانون کې د بیع الوفاء رواګڼل څه اغېز لري؟

٧. په اختلافي مسائلو کې د انکار شرعي حکم څه دی؟

**اهداف تحقیق**

په مستنده او مستدله توګه، پورته پوښتنو ته ځواب ویل د دې څیړنې موخه ده..

**د څېړنې میتود**

دا څیړنه په عامه توګه په تحلیلي توصیفي میتود تر سره شوې، خو په پای کې پې د موجودو معلوماتو څنګ په څنګ کولو او کارولو استنتاج او استنباط هم تر سره شوی، چې نوي معلومات لاس ته رواړي.

## شرعي ګروي

د شرعي ګروی صورت داسې دی: مدین (هغه څوک چې دَین ورباندې دی) له دائن سره یو جنس ږدي، څو دائن ډاډه شي، چې د دَین د سپارلو د وخت په رارسېدو خپل حق تر لاسه کوي او که مدین دَین ونه سپاري، له همدې ګرو شوي شي او یا د هغه له قیمت څخه به خپل حق تر لاسه کړي.

پورته مو ګروي د شرعي په قید موصوفه کړه، څو زموږ په سیمه کې مروجه ګروي ورڅخه استثنا شي؛ ځکه هغه یواځې په الفاظو کې ګروي د ه او په حقیقت کې بیع الوفاء ده.

الموسوعة الفقهية الكويتية رهن داسې تعریف کړی: «جعل عين مالية وثيقةبدين يستوفى منها أو من ثمنها إذا تعذر الوفاء». د پور په په ضمانت کې د یو مال ایښودل دي، چې د پور د نه ورکړې په صورت کې له دې ایښودل شوي مال او یا د هغه له قیمت څخه، پور ادا کړی شي. (الموسوعة الفقهية الكويتية ۱۷۵/۲۳)

خلک د دَین لپاره د قرض کلمه کاروي، سره له دې چې دَین له یوې پخوانی معاملې څخه منځته راغلی پور وي او قرض هغه پور دی چې په مستقل عقد رامنځ ته شوی وي، بل دا چې دَین د ګټې د تر لاسه کولو او تجارت په موخه تر سره کیږي او قرض یواځې د احسان او نیکۍ لپاره ورکول کیږي.

## د شرعي ګروی حکم

شرعي ګروي چې په عربي ژبه کې ورته رهن وایي، د علماوو په اتفاق روا ده. (الموسوعة الفقهية الكويتية ج ۲۳ ص ۱۷۶) الله تعالی فرمایي: ﴿وَإِن كُنتُمۡ عَلَىٰ سَفَرٖ وَلَمۡ تَجِدُواْ كَاتِبٗا فَرِهَٰنٞ مَّقۡبُوضَةٞۖ﴾ [البَقَرَةِ : ۲۸۳] که تاسې پر سفر واست او لیکونکی مو ونه موند، نو قبض کړی شوی ګرو واخلئ.

د مشروعیت په اړه یې د اسلام له علماوو څخه هیڅوک اختلاف نه لري. (ابن قدامه، ۱۹۹۷م: ۳۶۲/۴، نووي، (ب ت) المجموع شرح المهذب:۱۷۷/۱۳، الشوکاني، ۱۹۷۳م: ۳۵۲/۵).

**بيع الوفاء**

د بيع الوفاء صورت داسې دی، چې يو شخص بل ته پيسې ورکوي او په مقابل کې د هغه عقار (کرنيزه ځمکه، بڼ، کور، دوکان يا مارکېټ) اخلي. دواړه له اخيستل شويو عوضونو څخه ګټه اخلي، د پيسو اخيستونکی پيسې لګوي او د سپارلو پر مهال يې عوض ورکوي. د عقار اخيستونکی هغه کري، يا پکې اوسيږي او يا هم هغه په اجاره ورکوي او کرايه يې د ځان لپاره اخلي، خو په دې شرط چې هر وخت د عقار څښتن پيسې مقابل لوري ته ورکړي، خپل عقار بېرته اخلي.

مالکيان دې ترون ته «بيع الثنيا»، شافعيان ورته «بيع العهده» او حنبليان ورته «بيع الأمانه» وايي او همدا راز «بيع الطاعه» او «البيع الجائز» هم ورته ويل کيږي. (الحطاب، ۱۴۱۲هـ: ۳۷۳/۴، البهوتي، ۱۳۸۸هـ: ۱۴۹/۳ - ۱۵۰، نظام الدين البلخي په مشرۍ د علماوو ډله، ۱۴۱۰هـ: ۳/ ۲۰۹)

بيع الوفاء ته جائزه بيعه ځکه وايي چې د بات او قطعي بيعې مخالفه بيعه ده؛ ځکه لومړۍ نوع بيعه په وفا (سپارلو) او مشتري ته د بائع لخوا د پيسو په سپارلو مشروطه ده او په هغې سره له منځه ځي، چې دا يوه جائزه بيعه ده، لازمه، بات او قطعي نه ده او مطلقه بيعه لازمه، بات او قطعي بيعه ده چې يو لوری هم له عوارضو پرته په يو طرفه ډول هغه ماتولی نشي.

**د بيع الوفاء ماهيت**

د بيع الوفاء په ماهيت کې اختلاف دی:

۱. ځينو ورته فاسده بيعه ويلې؛ ځکه د استرداد او نقض شرط پکې شته او دواړه لوري له اقالې پرته په يو طرفه اراده کولی شي عقد له منځه يوسي، چې دا شرط د بيعې د عقد د غوښتنو مخالف دی؛ ځکه د بيعې د عقد غوښتنه دا ده چې مبيعه د مشتري په ملکيت او ثمن د بائع په ملکيت کې په دوامداره توګه داخل شي او په يو طرفه اراده يې نقض نکړای شي، نو د دې ډلې په نظر بيع الوفاء، فاسده بيعه ده او مشروعيت نه لري.

۲. نورو ويلي: دا د فاسد رهن عقد دی؛ ځکه د عقد پر مهال، له مرهونې د استفادې شرط کېښودل، د رهن عقد فاسدوي، نو د دوی له نظره دا عقد جواز نه لري.

۳. بلې ډلې دا عقد، په عوض او ګټې اخیستنې سره مشروط قرض ګڼلی او په ګټې اخیستنې مشروط قرض ناروا دی؛ په همدې سبب یې دا عقد ناجائز شمېرلی([1]).

۴. نورو دا عقد، د لاندې ګڼو خصوصیتونو لرونکی مستقل عقد شمېرلی:

الف - دا عقد د بیعې خصوصیت لرونکی دی. ځرنګه چې شکل یې د بیعې دی، بائع، مشتري او د عقد محل (ثمن او مبیعه) پکې شته او د تصرف له حق (د مشتري له خوا له خپل ملکیت څخه د مبیعې د ایستلو تسلط) پرته، د بیعې ټول آثار ورباندې مرتب دي.

ب - همدا راز د رهن خصوصیت پکې شته. مبیعه د مرهونې په څېر له مشتري سره ایساره ده، تر څو چې پر بائع د مشتري حق (چې ثمن دي)، چې د دین په توګه پر بائع شته، مشتري ته ونه سپاري، مبیعه بائع ته نه ورکوي.

ج - دا عقد د قرض خصوصیت هم لري. هغه پیسې چې بائع ته ورکول کیږي د قرض په څېر دي؛ ځکه بائع یې په منفرده اراده مشتري ته ورکوي او مقابل(مبیعه) یې د بائع له ملکیت څخه ندی وتلی او د مشتري ملکیت ته ندی ننوتی.

له وروستي نظر سره سم، د حنفي او شافعي مذهب ځینو متأخرو علماوو دا عقد، د خلکو د اړتیا له امله روا ګڼلی.

له همدې امله علماوو دا عقد له زرافې سره تشبیه کړی، چې بدن یې له اوښ، د پښو پنجې یې له غوا او رنګ او صورت یې له پړانګ سره ورته دی. (ابن نجیم، ۱۹۷۵م: ۹/۶)

ځرنګه چې د بیع الوفاء په مشروعیت کې اختلاف شته: د زیاترو علماوو په آند فاسده او ځینو متأخرو علماوو د خلکو د اړتیا له امله روا بللې، خو له دې عقد څخه په ډډه کولو کې احتیاط دی او له اختلاف څخه وتل د علماوو په وړاندې مندوب او غوره کار دی. په حدیث شریف کې له مشتبه شیزونو څخه ځان ژغورل د سلامتیا لار بلل شوې.

---

[1] دوی په خپل استناد کې دا مقوله ذکر کړې: (کل قرض جر نفعا فهو ربا) ځینې فکر کوي چې دا حدیث دی، خو دا مقوله ده، سره له دې چې معنی یې د علماوو په وړاندې مقبوله ده، خو معتبر حدیث نه دی، عجلوني وایي: «رواه الحارث بن أبي أسامة في مسنده عن علي رفعه، قال في التمییز وإسناده ساقط». (کشف الخفاء ۲/ ۱۲۵) الوراني په خپل کتاب المغني عن الحفظ والکتاب کې وایي: لم یصح فیه شيء عن النبي (صلی الله علیه وسلم). او شمس الدین الحنبلی هغه په خپل کتاب جملة من الأحادیث الضعیفة والموضوعة کې راوړی.

نعمان بن بشیر - رضی الله تعالی عنه - له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړي: «الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ فَمَنِ اتَّقَى الْمُشْتَبِهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ كَرَاعٍ يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ». (بخاري۱۴۱۴هـ : ۷۲۳/۲)

ژباړه: حلال ښکاره او حرام ښکاره دي، د دې دواړو تر منځ یو لړ چارې دي چې له دواړو سره مشابهت لري، ډیر خلک وربانديې نه پوهیږي، چا چې له مشتبهو څیزونو نه ډډه وکړه، خپل دین او عزت يې پاک او خوندي وساته، او څوک چې په مشکوکو ګناهونو کې لویږي، داسې دی لکه هغه شپون چې د ساتل شوي ځای په شاوخوا کې (رمه) پیایي، دیر امکان يې شته چې په هغه ځای کې (مالونه) ورګډ کړي.

## په بیع الوفاء مرتب اثر

د عقار په مطلق ملکیت باندې درې ډوله حقونه مرتب کیږي:

۱- د تصرف حق. (د استهلاک یا تملیک له لارې له خپل ملکیت څخه د جنس ایستل)،

۲- د استعمال حق، چې شخص پخپله هغه وکري او یا پکې واوسیږي.

۳- د استثمار حق، چې هغه په کرایه ورکړي او ثمره يې واخلي. په بات او قطعي بیعه باندې دا درې واړه حقونه د مشتري لپاره مرتب کیږي.

خو د هغو علماوو په نظر چې بیع الوفاء يې روا ګڼلې، لومړی ډول حق (د تصرف حق) وربانديې نه مرتب کیږي، مشتري نشي کولی هغه وپلوري، البته د استعمال او استثمار حق وربانديې مشتري ته مرتب کیږي.

## د بیع الوفاء شرعي حکم

د بیع الوفاء د حکم په اړه مختلف نظرونه شته، په حنفي مذهب کې يې په اړه اته قولونه نقل شوي دي. (ابن نجیم، ۱۹۷۵م: ۸/۶).

د مذاهبو په متقدمینو علماوو کې هیڅ یوه د هغه د جواز خبره نده کړې، بلکې له قواعدو يې جوتیږي چې دا عقد فاسد دی؛ ځکه که بیعه يې وشمېرو، داسې شرط پکې شته چې د

بيعې د عقد د غوښتنو مخالف دی او مشروعيت يې په شرعي دلائلو کې نه دی راغلی، نو روا نه دی.

مشتري ته د دوام او استمرار په ډول د مبيعې د ملکيت انتقال او بائع ته د ثمن د ملکيت انتقال د بيعې د عقد غوښتنه ده او په دې عقد کې استمرار نفی شوی دی.

که يې رهن وبولو، له مرهونې څخه د استفادې شرط د رهن د عقد فاسدوونکی دی، چې دا شرط په دې عقد کې شته، يعنې دا عقد په مفسد شرط مشتمل دی.

که قرض وبلل شي، گټه را جلبوي او هغه هم روا نه ده. (الموسوعة الفقهية الكويتية: ۲۶۰/۹)

د حنفي او شافعي مذهب ځينو متأخرينو علماوو دا عقد روا بللی او حکمونه يې ورباندې مرتب گڼلي.

د دوی دليل بيع الوفاء ته د خلکو اړتيا ده، يو مهال د بخارا او مصر پر خلکو پورونه زيات شول، هغوی دې ډول عقد ته اړتيا پيدا کړه، څرنگه چې يې د جواز لپاره لارې وې، نو په مستقل ډول يې روا وگڼلو.

د جائز گڼلو لارې يې داسې دي، لکه په شافعي مذهب کې روا ده چې عاقدان د عقد له مجلس څخه وړاندې په استرداد موافقه وکړي او د عقد په مجلس کې يې يادونه ونکړي، عقد صحيح دی او دواړه بايد په خپلو وعدو وفا وکړي. (الهيتمي، (ب ت): ۲/ ۱۵۷)

بله لار دا ده چې د تلجئې بيعه وگڼل شي، بائع د لارې شکوونکو له وېرې خپل مال د استرداد په شرط د سفر پر ملگري پلوري، څو د لارې له خطر څخه ځان وژغوري.

يا دا چې مبيعه مرهونه وگڼل شي او کله چې د رهن د عقد په صلب کې د استفادې شرط نه وي، بلکې له عقد وروسته راهن (گرو ورکوونکی) مرتهن ته د استفادې اجازه وکړي، په دې صورت کې ورته استفاده روا ده.

نو د ځينو شکلياتو په رعايت سره، د مذاهبو د متقدمينو علماوو په نظر هم، د بيع الوفاء هدف ته د رسېدو څو لارې موجودې وې، متأخرينو علماوو د يادو شکلياتو له رعايت پرته، د خلکو د اړتيا په بنسټ نوموړی عقد روا وگڼلو.

د تراث د کتابونو ځيني نصوص، چې بيع الوفاء يې د خلکو د اړتيا په بنسټ روا ګڼلې، په لاندې توګه دي:

۱. مرغيناني وايي: «ومن جعل البيع الجائز المعتاد بيعا فاسدا يجعله كبيع المكره حتى ينقض بيع المشتري من غيره ، لأن الفساد لفوات الرضا، ومنهم من جعله رهنا لقصد المتعاقدين، ومنهم من جعله باطلا اعتبارا بالهازل ومشايخ سمرقند رحمهم الله جعلوه بيعا جائزا مفيدا بعض الأحكام على ما هو المعتاد للحاجة إليه». (مرغينانی، ۱۴۰۷هـ ، ۳/۲۷۶)

ژباړه: چا چې مروجه جايزه بيعه فاسده شمېرلې، هغه يې د مکره د بيعې په څېر ګڼلې، په همدې سبب پر بل چا د مشتري بيعه ماتيږي؛ ځکه فساد يې د رضايت د نشتوالي له امله دی او ځينو هغه رهن بللی؛ ځکه چې عاقدانو يې قصد کړی، ځينو بيا باطله ګڼلې او پر هازل يې قياس کړې. د سمرقند مشائخو - رحمهم الله- هغه جائزه بيعه شمېرلې او ځينې حکمونه يې ورباندې مرتب کړي لکه چې مروج دي؛ ځکه اړتيا ورته موجوده ده.

۲. د هدايې شارح بابرتي وايي: «ومشايخ سمرقند جعلوه بيعا جائزا مفيدا بعض الأحكام وهو الانتفاع به دون البيع والهبة على ما هو المعتاد بين الناس للحاجة إليه، واختاره المصنف رحمه الله وأشار إليه بقوله البيع الجائز المعتاد». (البابرتي، ۱۳۸۹هـ، ۹/ ۱۵۶)

د سمرقند علماوو دا يوه روا بيعه ګڼلې چې ځينې حکمونو ورباندې مرتب کيږي، لکه ګټه اخيستل، نه پلورل او هبه کول؛ دا ځکه چې د خلکو ورته اړتيا او ورباندې تعامل دی. مصنف همدا نظر غوره ګڼلی او په دې جمله کې «الْبَيْعَ الْجَائِزَ الْمُعْتَادَ» يې ورته اشاره کړې.

۳. ابن نجيم وايي: «وذكر الزيلعي أن الفتوى على أنه بيع جائز مفيد لبعض أحكامه من حل الانتفاع به إلا أنه لا يملك بيعه للغير». (ابن نجيم، ۱۹۷۵م: ۸/۶) ژباړه: زيلعي ويلي چې فتوا پر دې ده، چې دا بيعه جائزه ده، ځينې حکمونه رامنځته کوي، له هغې ډلې څخه د ګټې اخيستلو جواز، خو په بل چا يې د پلورلو حق نه لري.

۴. زيلعي ويلي: «ومن مشايخ سمرقند من جعله بيعا جائزا مفيدا بعض أحكامه منهم الإمام نجم الدين النسفي فقال اتفق مشايخنا في هذا الزمان فجعلوه بيعا جائزا مفيدا بعض أحكامه وهو الانتفاع به دون البعض وهو البيع؛ لحاجة الناس إليه ولتعاملهم فيه، والقواعد قد تترك بالتعامل، وجوز الاستصناع لذلك، وقال صاحب النهاية وعليه الفتوى». (الزيلعي۱۳۱۴هـ:

۱۸۴/۵) ژباړه: د سمرقند ځینو فقهاوو جائزه بیعه گڼلې چې ځینې حکمونه وربانديې مرتبیږي، له هغوی څخه یو هم امام نجم الدین نسفي دی، هغه ویلي: په دې زمانه که زموږ فقهاوو اتفاق کړی او دا یې جائزه بیعه شمېرلې، ځینې حکمونه رامنځته کوي لکه گټه اخیستل، دا ځکه چې د خلکو ورته اړتیا او وربانديې تعامل دی، کله کله په تعامل سره قواعد پریښودل کیږي چې استصناع له همدې ډلې څخه ده. د نهایې لیکوال ویلي، چې پر همدې فتوا ده.

۵. په الأشباه والنظائر کې وایي: «السادسة: الحاجة تنزل منزلة الضرورة عامة كانت أو خاصة ولهذا جوزت الإجارة على خلاف القياس للحاجة... ومنها: ضمان الدرك جوز على خلاف القياس، ومن ذلك : جواز السلم على خلاف القياس لكونه بيع المعدوم دفعا لحاجة المفاليس، ومنها جواز الاستصناع للحاجة، ودخول الحمام مع جهالة مكثه فيها وما يستعمله من مائها ... ومنها: الإفتاء بصحة بيع الوفاء حين كثر الدين على أهل بخارى وهكذا بمصر». (ابن نجیم، ۱۴۱۹هـ: ۱۱۴)

ژباړه: شپږم: حاجت که عام او یا خاص وي، د ضرورت ځای نیسي، له همدې امله د حاجت پر بنسټ د قیاس په خلاف، اجاره روا گڼل شوې... له دې ډلې څخه (ضمان الدرک) دی چې د قیاس خلاف روا گڼل شوی، له دې ډلې څخه د سلم جواز دی، چې د قیاس خلاف، د مفلسانو د حاجت رفع کولو لپاره روا گڼل شوی؛ که نه په اصل کې د معدوم پلورل دي. له همدې ډلې څخه د حاجت په بنسټ د استصناع جواز، د حمام کولو د عقد جواز دی، سره له دې چې وخت تېرول او د کارول کېدونکو اوبو اندازه پکې مجهوله ده، له دې ډلې څخه د بیع الوفاء په رواوالي فتوا ده، کله چې د بخارا په خلکو دینونه زیات شول، همدا راز په مصر کې.

۶. د مجلة الأحكام العدلية په ۳۲ ماده کې راغلي: «الحاجة تنزل منزلة الضرورة عامة أو خاصة ومن هذا القبيل تجويز البيع بالوفاء حيث أنه لما كثرت الديون على أهل بخارى، مست الحاجة إلى ذلك فصار مرعيا».

ژباړه: حاجت که عام وي یا خاص، د ضرورت ځای نیسي، د بیع الوفاء رواوالی له همدې ډلې دی؛ د بخارا پر خلکو چې کله پورونه زیات شول، بیع الوفاء ته ضرورت پېښ شو او علماوو دا ضرورت په حکم کې معتبر وګڼلو.

همدا راز د دې کتاب شپږم فصل یې د بیع الوفاء حکمونو ته ځانګړی کړی او له **۳۹۶** مادې څخه تر **۴۰۳** مادې پورې یې د هغې حکمونه په تفصیل سره بیان کړي.

۷. په درر الحکام شرح غرر الأحکام کې راغلي: «ذکر في مجموع النوازل اتفق مشایخنا في هذا الزمان علی صحته بیعا علی ما کان علیه بعض السلف». (منلا خسرو، (ب ت)، ۲/ ۲۰۷) په مجموع النوازل کې راغلي: په دې زمانه کې زموږ مشائخو د بیع الوفاء په صحت اتفاق کړی، هغسې چې د ځینو سلفو نظر و.

۸. ابن عابدین په خپله حاشیه رد المحتار کې د مشائخو د ګڼو اقوالو په ترځ کې د جواز وروکوونکو قول هم رانقل کړی، وایي: «(وقیل بیع یفید الانتفاع به) هذا محتمل لأحد القولین: الأول - أنه بیع صحیح مفید لبعض أحکامه من حل الانتفاع به إلا أنه لا یملك بیعه. قال الزیلعي في الإکراه وعلیه الفتوی. الثاني - القول الجامع لبعض المحققین أنه فاسد في حق بعض الأحکام حتی ملك کل منهما الفسخ، صحیح في حق بعض الأحکام، کحل الإنزال ومنافع المبیع، ورهن في حق البعض حتی لم یملك المشتري بیعه من آخر ولا رهنه وسقط الدین بهلاکه، فهو مرکب من العقود الثلاثة کالزرافة فیها صفة البعیر والبقر والنمر، جوز لحاجة الناس إلیه، بشرط سلامة البدلین لصاحبهما. قال في البحر وینبغي أن لا یعدل في الإفتاء عن القول الجامع. وفي النهر والعمل في دیارنا علی ما رجحه الزیلعي». (ابن عابدین،۱۴۲۱هـ ۵/۲۷۷) چا ویلي: داسې بیعه ده چې له مبیعې انتفاع اخیستل روا کوي) دا دوه احتماله لري: لومړی- دا صحیحه بیعه ده، ځینې حکمونه لکه د انتفاع روا کېدل پرې مرتب کیږي، خو د پلورلو حق یې نه لري. زیلعي په الإکراه کې ویلي: په همدې فتوا ده. دویم- د ځینو محققینو وینا ده چې دا بیعه په ځینو حکمونو کې فاسده ده، لکه دواړو ته د فسخې حق ورکول، په ځینو حکمونو کې صحیحه بیعه ده، لکه په کور کې د اوسېدلو او د مبیعې د منافعو په رواوالي کې، او په ځینو حکمونو کې د ګروی حکم لري، لکه مشتري ته د پلورلو او ګرو کولو واک نه انتقالېدل، همدا راز په له منځه تلو یې د دین ساقطېدل، یعنې دا

بیعه له درېو عقدونو څخه جوړه ده، لکه په زرافه کې چې د اوښ، غوا او پړانګ صفتونه راټول شوي، د بدلونو د سلامتیا په شرط خلکو ته د اړتیا له مخې روا شوې. په البحر کې راغلي: په کار ده چې په فتوا کې له جامع قول څخه وانه وړي. په النهر کې راغلي: زموږ په سیمو کې عمل په هغه قول دی، چې زیلعي راجح ګڼلی.

**د لفظ او مقصد تر منځ تعارض**

د عقدونو په تړلو کې که د لفظ او مقصد تر منځ تعارض واقع شي، مقصد ته اعتبار ورکول کیږي او د لفظ معنی پرېښودل کیږي.

د مجلة الأحکام العدلية په دریمه ماده کې راغلي: «العبرة في العقود للمقاصد والمعاني لا للألفاظ والمباني" ولذا يجري حكم الرهن في البيع بالوفاء» په عقدونو کې مقصد او معنی ته اعتبار دی، نه الفاظو او بنا ته، له همدې امله په بیع الوفاء د رهن حکم جاري کیږي.

دوکتور وهبة زحيلي يې په تفسير کې وايي: «ومعناها: أن ألفاظ العقود تحوّل العقد إلى عقد آخر إذا قصده العاقدان، فالهبة بشرط العوض، مثل وهبتك كذا بشرط أن تعطيني كذا، هي بيع؛ لأنها في معناه، فتأخذ أحكام البيع والكفالة بشرط عدم مطالبة المدين المكفول عنه: حوالة تأخذ أحكامها لأنها في معناها.والحوالة بشرط مطالبة المدين المحيل والمحال عليه: كفالة. والإعارة بعوض: إجارة. وبيع الوفاء عند الحنفية (وهو أن يبيع المحتاج إلى النقود عقاراً، على أنه متى وفى الثمن، استرد العقار) يأخذ غالباً أحكام الرهن؛ لأنه هو مقصود العاقدين». (الزحيلي، (ب ت)، ١/ ١٣٥)

ژباړه: د قاعدې معنی دا ده چې: د عقد الفاظ هغه مهال یو عقد په بل تبدیلوي، چې عاقدانو يې قصد کړی وي، نو د عوض په شرط هبه، لکه چې ووايي: دا مې درته هبه کړ، په دې شرط چې فلانی شی به ما ته راکړې، دا بیعه ده؛ ځکه چې دا صورت د بیعې په معنی دی، نو د بیعې حکم اخلی. د مدین، چې ورڅخه ضمانت اخیستل شوی وي، د نه مطالبې په شرط کفاله، حواله ده او د هغې حکمونه اخلي. د مدین له خوا د حواله کوونکي او حواله کړی شوي د مطالبې په شرط حواله، کفاله ده. د عوض په شرط اعاره، اجاره ده. د حنفیانو په نظر بیع

الوفاء (چې پیسو ته اړ شخص عقار وپلوري، په دې شرط چې هر وخت یې ثمن تسلیم کړ، عقار به بېرته اخلي) د رهن زیاتره حکمونه اخلی؛ ځکه چې همدا د عاقدانو مقصد دی.

پورتنۍ قاعده د حنفي او شافعي دواړو مذهبونو په وړاندې معتبره ده. (الزحیلي، (ب ت)، ۱/ ۱۳۵)

**زموږ په هیواد کې د مروجې ګروۍ ماهیت**

زموږ په هیواد کې د مروجې ګروۍ صورت داسې دی: د عقار لرونکی پیسو ته اړتیا لري او د عقار په مقابل کې له بل چا پیسې اخلي، خپله له پیسو او مقابل لوری له عقار څخه ګټه اخلي، کله چې مقابل لوري ته پیسې وسپاري، خپل عقار بېرته تر لاسه کوي.

پورتنی صورت بیع الوفاء ده. اوس که هدف همدا وي، که عاقدان هر ډول الفاظ استعمال کړي، بیع الوفاء ګڼل کیږي.

کېدای شي ووایي: ستا ځمکه مې په دومره پیسو په ګرو واخیسته، یا خپله ځمکه مې په دومره پیسو تا ته په ګرو درکړه، خو کله چې پیسې مستردې شوې، ځمکه به مستردیږي.

یا ووایي: خپله ځمکه مې پر تا، په بیع الوفاء، په دومره پیسو وپلورله.

که تفصیل یې هم ورنکړ او یوائې د ګرو الفاظ یې وکارول او د تعاقد له ظروفو او د زماني له عرف څخه څرګندېده چې له ګروۍ څخه یې موخه بیع الوفاء ده او یو بل یې تصدیق کړل، تر منځ یې کوم اختلاف نه و، د تېرې شوې قاعدې پر بنسټ یې عقد بیع الوفاء ګڼل کیږي.

نو هیڅوک باید په دې تېر نه وځي چې زموږ په هیواد کې مروجه ګروي بیع الوفاء نده او ووایي چې بیع الوفاء روا، خو مروجه ګروي ناروا ده.

هو که ووایي: بیع الوفاء روا نه ګڼم، نو مروجه ګروي هم روا نه ګڼم، بیا یې خبره توجیه لري.

**د افغانستان په قوانینو کې د بیع الوفاء حکم**

د افغانستان مدني قانون له ۱۱۳۶ مادې څخه تر ۱۱۵۱ مادې پورې د بیع الوفاء حکمونه په تفصیل بیان کړي، چې د زیاتو معلوماتو لپاره یې ځینې برخې دلته رانقلوو:

۱۱۳۶ ماده: د وفاء بیعه عبارت ده د مبیعې د بېرته رده ولو د حق لرلو څخه خرڅوونکي ته او د ثمن اخستونکي ته.

۱۱۳۷ ماده: د خرڅوونکي او اخستونکي د بېرته رده ولو حق د مدې پورې مشروط او مقید کېدای نه شي، هره نوعه موافقه چه د هغې په خلاف صورت ومومي، باطله گڼل کیږي.

۱۱۳۸ ماده: د وفاء په بیعه کې اخستونکی کولی شي د مبیعې د ټولو یا یوې برخې گټو څخه استفاده وکي مگر نه شي کولی چه مبیعه په بل چا خرڅه کي یا د هغې د رقبې ملکیت په بل یو سبب د سببونو څخه نقل کي.

۱۱۳۹ ماده: خرڅوونکی هغه وخت کولی شي چه د وفاء په بیعې کښې مبیعه خرڅه کي چه اخستونکی ورڅخه د ثمن د بېرته رده ولو غوښتنه وکي او خرڅوونکی بې د مبیعې د خرڅولو څخه د ثمن په اداء کولو قادر نه وي.

۱۱۴۰ ماده: (۱) د وفاء په بیعه کې، مبیعه د بېرته رده ولو تر وخته پورې د اخستونکي ملکیت گڼل کیږي او د ملکیت پورې مربوطې قاعدې په هغې کښې مراعت کیږي.

(۲) د وفاء په بیعې کښې اخستونکی کولی شي تر هغې پورې د مبیعې څخه د ملکیت استفاده وکي تر څو چه ورته د خرڅوونکي له خوا، حق رد کړی شي، مگر دا چه د هغه عمل غش ولري.

۱۱۴۱ ماده: (۱) د مبیعې بېرته رده ول په داسې رسمي خبرتیا صورت مومي چه د اخستونکی له خوا صادریږي.

(۲) د خبرتیا د پوره کېدو وروسته د بیعې عقد فسخ کیږي، اخستونکی به مبیعه د هغه تضمیناتو څخه خالي بېرته رده وي چه په هغې یې وارد کړي دي.

۱۱۴۳ ماده: که اخستونکي په مبیعه باندې گټه ور او ضروري مصرفونه کړي وي او د هغې په سبب د مبیعې قیمت لوړ شوی وي، د هغې د غوښتنې حق لري، خو په دې شرط چه ذکر شوي مصرفونه د خرڅوونکي په اجازې شوي وي او اسراف په کښې نه وي شوی.

**د اولو الأمر (چارواکو) د اطاعت حکم**

د هغه هیواد قوانین چې په قانون جوړونه کې يې د اسلامي شریعت پابندي کړې وي، د اولو الأمر حکم ګڼل کیږي او د دوی امر منل واجب دي.

الله تعالی فرمايي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡ﴾ [النِّسَاء : ٥٩] اې مؤمنانو! د الله اطاعت کوئ او د رسول او ستاسو د چارواکو اطاعت کوئ.

ابو هريرة- رضي الله تعالی عنه- له رسول الله- صلی الله علیه وسلم- څخه روایت کړي: «من أطاعني فقد أطاع الله ومن عصاني فقد عصى الله ومن يطع الأمير فقد أطاعني ومن يعص الأمير فقد عصاني وإنما الإمام جنة يقاتل من ورائه ويتقى به فإن أمر بتقوى الله وعدل فإن له بذلك أجرا وإن قال بغيره فإن عليه من». (صحيح البخاري، ٤/ ٥٠)

چا چې زما اطاعت وکړ نو د الله - جل جلاله - اطاعت يې کړی او چا چې زما نافرماني وکړه نو د الله - جل جلاله- نافرماني يې کړې او چا چې د امیر اطاعت وکړ نو زما اطاعت يې کړی او چا چې د امیر معصیت وکړ نو زما معصیت يې کړی، امام خو یواځې یو ډال دی چې تر شا يې جګړه کیږي او ځان ورباندې ساتل کیږي، که د الله - جل جلاله - په تقوا يې امر کاوو او عدل يې وکړ، نو په هغه اجر ورکول کیږي او که بل څه يې ويل، نو هغه په ده دي.

له ابن عمر - رضي الله عنهما - څخه روایت دی، چې رسول الله- صلی الله علیه وسلم- فرمايلي: «السمع والطاعة حق ما لم يؤمر بالمعصية فإذا أمر بمعصية فلا سمع ولا طاعة». (صحيح البخاري، ۴/ ۵۰)

ژباړه: اوریدل او منل حق او لازم دي تر هغه پورې چې چا ته د ناروا امر نه وي شوی، کله چې د ناروا امر ورته وشو نو نه اوریدل شته او نه منل.

له عباده بن صامت- رضي الله تعالی عنه- څخه روایت دی: «بايعنا على السمع والطاعة في منشطنا ومكرهنا وعسرنا ويسرنا وأثرة علينا وأن لا ننازع الأمر أهله إلا أن تروا كفرا بواحا عندكم من الله فيه برهان». (صحيح البخاري، ۹/ ۴۷، صحيح مسلم، ۱۴۷۰/۳)

ژباړه: موږ له رسول الله- صلی الله علیه وسلم- سره په اوریدلو او منلو تړون وکړ، په لیوالتیا او ناخوښۍ کې، په سختۍ او آسانۍ کې او په موږ باندې د بل چا د غوره کولو په صورت

کې او دا چې له چارواکو سره به په چارو کې شخړه نه کوو، خو که ښکاره کفر مو ولیده، له تاسو سره د هغه په هکله له الله تعالی څخه ښکاره دلیل وو. (نو بیا شخړه کول په کار دي)

نووي -رحمه الله- ښکاره کفر په معاصي او ګناهونو سره شرحه کړی، نو د ده په نزد عملي کفر مراد دی نه عقیدوي کفر. (النووي ۱۳۹۲هـ ۱۲/ ۲۲۹) [۱]

همدار راز انس -رضي الله تعالى عنه - له رسول الله- صلى الله عليه وسلم- څخه روایت کړی، چې هغه مبارک فرمایلي: «اسمعوا وأطيعوا وإن استعمل عليكم عبد حبشي كأن رأسه زبيبة». (صحيح البخاري، ۹/ ۶۲)

ژباړه: واورئ او ومنئ که څه هم په تاسو یو حبشي مربی وټاکل شي، چې سر به یې د ممیز په څېر ( تور، یا وړوکی) وي.

له ابو ذر- رضي الله تعالى عنه- څخه روایت دی: «إن خليلي أوصاني أن أسمع وأطيع وإن كان عبدا حبشيا مجدع الأطراف». (صحيح مسلم د حدیث شمیره: ۱۸۳۷)

ژباړه: بیشکه زما ګران دوست امر راته کړی چې واورم او ومنم، که څه هم (زما امیر) به لاسو او پښو پرې حبشي مربی وي.

ابن عابدين په رد المحتار کې یو مطلب راوړی: «مطلب طاعة أولي الأمر واجبة». (ابن عابدين، (۱۴۲۱هـ) ۷/ ۵۳) او له علماوو یې نقل کړي چې له معصیت نه پرته په نورو چارو کې د اولو الامر اطاعت واجب دی.

نووي(رحمه الله) د مسلم په شرحه کې وايي: «أجمع العلماء على وجوبها في غير معصية وعلى تحريمها في المعصية». (النووي، (۱۳۹۲هـ) ۱۲/ ۲۲۲)

ژباړه: په روا کې د امام د اطاعت په وجوب او په ناروا کې یې په تحریم علماوو اجماع کړې ده.

---

۱- نووي د مسلم په شرحه کې وايي: «والمراد بالكفر هنا المعاصي ومعنى عندكم من الله فيه برهان أي تعلمونه من دين الله تعالى ومعنى الحديث لا تنازعوا ولاة الأمور في ولايتهم ولا تعترضوا عليهم إلا أن تروا منهم منكرا محققا تعلمونه من قواعد الإسلام، فإذا رأيتم ذلك فأنكروه عليهم وقولوا بالحق حيث ما كنتم». (النووي، (۱۳۹۲هـ) ۱۲/ ۲۲۹)

**د چارواکو د اطاعت سیمه**

د چارواکو د اطاعت دائره مباح کارونه او هغه چارې چې حکم یې اختلافي وي، دي. چارواکي کولی شي چې خلک د معتبرو علماوو له ډلې څخه د یوه عالم په نظر مجبور او ملزم کړي.

د طلب له اړخه د مکلف د فعل شرعي صفت په درې ډوله دی: مطلوب فعل، ممنوع فعل او مخیر فعل.

مطلوب فعل په دوه ډوله دی: په جزم سره غوښتل شوی، چې هغه ته فرض او واجب ویل کیږي. په غیر جزم سره غوښتل شوی، چې هغه ته مندوب ویل کیږي.

ممنوع فعل هم په دوه ډوله دی: په جزم سره منع شوی، چې حرام او مکروه تحریمي بلل کیږي. په غیر جازم ډول منع شوی، چې د تنزیهي مکروه په نامه یادیږي.

مخیر فعل ته مباح ویل کیږي.

نو د شرعي توصیف په بنسټ د مکلف فعل د طلب او منعې له نظره په اووه ډوله دی:

۱- فرض، ۲- واجب، ۳- مندوب (چې په سنتو او مستحبو مشتمل دی)، ۴- مباح، ۵- حرام، ۶- تحریمي مکروه، ۷- تنزیهي مکروه.

د دلیل د قوت په اعتبار شرعي حکم په دوه ډوله دی: قطعي حکم او اجتهادي حکم، قطعي حکم هغه دی، چې په قطعي الثبوت او قطعي الدلاله دلیل ثابت شوی وي او اجتهادي حکم هغه دی، چې په ظني او محتمل دلیل ثابت شوی وي.

د قطعي حکم ځانګړتیا دا ده چې د امت علماوو پکې اختلاف نه وي کړی، نو په اجماع سره ثابت وي.

د ظني او اجتهادي حکم ځانګړتیا دا ده، چې د امت علماوو پکې اختلاف کړی وي او په اړه یې اجماع نه وي.

د مطلوب او ممنوع شپږ ډوله فعلونه (فرض، واجب، مندوب، حرام، تحریمي مکروه او تنزیهي مکروه) د الله تعالی او رسول الله د اطاعت په دائره کې داخل دي، البته که چارواکي د دوی سره سم امر وکړي، نور هم مؤکد کیږي. یو ډول فعل چې مباح دی، له چارواکو څخه باید پیروي پکې وشي. که چارواکو د مصالحو د جلب یا د ضرر د دفع کولو لپاره ممنوع یا

مطلوب وگرځولو، يا يې په هغه عمل کې شرطونه کېښودل، په رعيت د الله تعالى له طرفه لازم دي چې د هغوی پيروي وکړي.

همدا راز چارواکي صلاحيت لري، چې په اجتهادي حکمونو کې (چې مجتهدينو پکې مختلف نظريات ورکړي وي) يو نظر غوره کړي او د فرمان او قانون په بڼه يې په خلکو لازم کړي.

دا خبره بايد تل په ياد ولرو، چې د احکامو شارع او مطلق مطاع يواځې الله تعالى دی، د تحريم او تحليل حق يواځې د هغه دی او د چارواکو اطاعت د الله تعالى په اطاعت بنا دی، نو قانون جوړوونکی، محلل، محرم او حقيقي شارع الله تعالى دی او د چارواکو اطاعت د الله تعالى په امر لازم دی.

د چارواکو اطاعت په تخييري حکمونو کې واجب دی. که چارواکي کوم مباح پر خلکو لازم کړي، يا يې ممنوع او يا قيد وربانديې کېږدي، اطاعت يې پکې واجب دی.

همدا راز په اجتهادي حکمونو کې د چارواکو اطاعت لازم دی، که يې يو نظر پر بل نظر وړانديې کړ، په رعيت لازم دي چې پيروي يې وکړي([1]).

د چارواکو له خوا د مباح تقييد او د يو اختلافي نظر الزامي کول، مستقله تشريع نده.

دا خبره بايد په پام کې وي، چې چارواکي د تحليل او تحريم واک نه لري، بلکې الله تعالى په مباحو کې تحليل او تحريم د دوی د امر او نهی پورې تړلی، نو محرم او محلل الله تعالى دی، الله تعالى د الزام علت د چارواکو امر او نهی بللې، نو د دوی په امر او نهی وجوب او حرمت راځي.

١- ابن نجيم - رحمه الله - د کنز په شرحه کې وايي: **(لِأَنَّ طَاعَةَ الْإِمَامِ فِيمَا ليس بِمَعْصِيَةٍ فَرْضٌ فَكَيْفَ فِيمَا هو طَاعَةٌ)**(١) (ابن نجيم، (١٩٧٥م): ٥/ ١٥٢). همدا راز دا عبارت په بدائع الصنائع (ج ٧ص ١٤٠ )کې هم راغلی.

علامه کاساني په بل ځای کې ليکي: (وإذا أمر عليهم يكلفهم طاعة الأمير فيما يأمرهم به وينهاهم عنه، لقول الله تبارك وتعالى {يا أيها الذين آمنوا أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم } وقال عليه الصلاة والسلام: اسمعوا وأطيعوا ولو أمر عليكم عبد حبشي أجدع ما حكم فيكم بكتاب الله تعالى، ولأنه نائب الإمام، وطاعة الإمام لازمة كذا طاعته، لأنها طاعة الإمام إلا أن يأمرهم بمعصية فلا تجوز طاعتهم إياه فيها، لقوله عليه الصلاة والسلام: لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق، ولو أمرهم بشيء لا يدرون أينتفعون به أم لا، فينبغي لهم أن يطيعوه فيه إذا لم يعلموا كونه معصية، لأن اتباع الإمام في محل الاجتهاد واجب كاتباع القضاة في مواضع الاجتهاد). (الكاسانی، (١٤٠٤ هـ) ٧/ ٩٩)

همدا راز په اجتهادي حکمونو کې خلک د الله تعالی له لوري مکلف دي، چې له معتبرو علماوو څخه د يوه په نظر عمل وکړي: ﴿فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ [النحل: ۴۳] که تاسو نه پوهيږي، له اهل علمو څخه پوښتنه وکړئ.

په اهل علمو کې د معين شخص پيروي لازمه نده، که مکلف له معتبرو مجتهدينو څخه د هر يوه پيروي وکړي، ګناه نه لري، اوس که چارواکي له دې اجتهادونو څخه په يوه اجتهاد خلک مکلف کړي، اطاعت يې لازم دی.

**د چارواکو د اوامرو د اطاعت د لزوم شرط**

د چارواکو د اوامرو د اطاعت د لزوم له شرطونو څخه ځينې يې دا دي:

۱. دوی به د مصالحو او مفاسدو په رعايت اوامر صادروي؛ هغه اوامر چې يوازې په خلکو سختي راولي او کومه ګټه پکې نه وي، يا يې ګټه يوازې چارواکو ته رسيږي، د عامو خلکو پکې زيان وي، منل يې لازم نه دي؛ ځکه منل شوې فقهي قاعده ده: چې د رعيت په هکله تصرف، د دوی په ګټو پورې ځورند دی؛ که په تصرف کې ګټه نه وي، هغه ناسم دی.

چارواکي به په هغو چارو کې اوامر صادروي چې ټولنيز سلوک (کړه وړه) وي؛ په ځانګړو کړو وړو کې چې په نورو پورې اړه ونه لري، لکه ځانګړي عبادات، په دې کې مسلمانان آزاد دي، چې د هر مجتهد نظر يې خوښ وي عمل پرې کولی شي؛ له همدې کبله امام مالک جعفر منصور خليفه ته اجازه ورنکړه چې د ده مذهب په ټول اهل خلافت الزامي کړي. همدا راز ابن تيميه ويلي: حاکم لپاره جواز نه لري چې خلک په خصوصي چارو او عباداتو کې په يو مذهب مکلف کړي ([1])

۱ - "فصل فيما جعل الله للحاكم أن يحكم فيه وما لم يجعل لواحد من المخلوقين الحكم فيه بل الحكم فيه على جميع الخلق لله تعالى ولرسوله ٠ليس لأحد من الحكام أن يحكم فيه على غيره ولو كان ذلك الشخص من آحاد العامة، وهذا مثل الأمور العامة الكلية التي أمر الله جميع الخلق أن يؤمنوا بها ويعملوا بها وقد بينها في كتابه وسنة رسوله ٠بما أجمعت عليه الأمة أو تنازعت الأمة فيه إذا وقع فيه نزاع بين الحكام وبين آحاد المسلمين: من العلماء أو الجند أو العامة أو غيرهم لم يكن للحاكم أن يحكم فيها على من ينازعه ويلزمه بقوله ويمنعه من القول الآخر فضلا عن أن يؤذيه أو يعاقبه، مثل أن يتنازع حاكم أو غير حاكم في قوله تعالى: (أو لامستم النساء هل المراد به

۲. بل دا چې قوانين او فرامين به له شورا څخه صادريږي؛ استبدادي اوامر مشروعيت نه لري؛ ځکه استبداد د الله د حکم مخالفت دی، الله تعالی فرمايي: ﴿وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ﴾ [الشوری: ۳۸] او چاره يې په خپل منځ کې په مشوره وي.

**د بيع الوفاء د مشروعيت په اړه د مدني قانون د تجويز اغېز**

هغه وضعي قوانين چې په شريعت پابند وي، د چارواکو امر شمېرل کيږي او په اجتهادي چارو کې د چارواکو امر واجب الاتباع دی.

بيع الوفاء هم له اجتهادي چارو څخه ده او د هيواد په قوانينو کې روا ګڼل شوې، نو د چارواکو د تجويز په بنسټ -کم تر کمه - هيڅوک يې بايد نامشروع ونه شميري.

---

الجماع؟ كما فسره ابن عباس وغيره وقالوا: إن مس المرأة لا ينقض الوضوء لا لشهوة ولا لغير شهوة. أو المراد به اللمس بجميع البشرة إما لشهوة وإما مطلقا ؟ كما نقل الأول عن ابن عمر. والثالث قاله بعض العلماء...

وكذلك تنازع المسلمون في الوضوء من خروج الدم بالفصاد والحجامة والجرح والرعاف وفي " القيء "... وكذلك تنازعوا في كثير من مسائل الطلاق والإيلاء وغير ذلك وكثير من مسائل العبادات في الصلاة والصيام والحج وفي مسائل زيارات القبور ; منهم من كرهها مطلقا ومنهم من أباحها ومنهم من استحبها إذا كانت على الوجه المشروع وهو قول أكثرهم.

وتنازعوا في " السلام على النبي ٠": هل يسلم عليه في المسجد وهو مستقبل القبلة ؟ أو مستقبل الحجرة ؟ وهل يقف بعد السلام يدعو له أم لا ؟ وتنازعوا أي المسجدين أفضل: المسجد الحرام أو مسجد النبي صلى الله عليه وسلم٠واتفقوا على أنهما أفضل من المسجد الأقصى واتفقوا على أنه لا يستحب السفر إلى بقعة للعبادة فيها غير المساجد الثلاثة واتفقوا على أنه لو نذر الحج أو العمرة لزمه الوفاء بنذره واتفق الأئمة الأربعة والجمهور على أنه لو نذر السفر إلى غير المساجد الثلاثة لم يلزمه الوفاء بنذره وتنازعوا فيما إذا نذر السفر إلى المسجدين إلى أمور أخرى يطول ذكرها. وتنازعوا في بعض تفسير الآيات وفي بعض الأحاديث: هل ثبتت عن النبي صلى الله عليه وسلم٠؟ أو لم تثبت ؟ فهذه الأمور الكلية ليس لحاكم من الحكام كائنا من كان - ولو كان من الصحابة - أن يحكم فيها بقوله على من نازعه في قوله فيقول: ألزمته أن لا يفعل ولا يفتي إلا بالقول الذي يوافق لمذهبي ; بل الحكم في هذه المسائل لله ورسوله والحاكم واحد من المسلمين فإن كان عنده علم تكلم بما عنده وإذا كان عند منازعه علم تكلم به فإن ظهر الحق في ذلك وعرف حكم الله ورسوله وجب على الجميع اتباع حكم الله ورسوله وإن خفي ذلك أقر كل واحد على قوله - أقر قائل هذا القول على مذهبه وقائل هذا القول على مذهبه - ولم يكن لأحدهما أن يمنع الآخر إلا بلسان العلم والحجة والبيان فيقول ما عنده من العلم. (مجموع فتاوى ابن تيميه,۳۵/ ۳۵۷)

خو دا چې چارواکو یې په ترسره کولو امر نه دی کړی، خلک کولی شي ورځخه ډډه وکړي.

**په شرعي مسائلو کې د انکار حکم**

په هغو مسائلو کې چې د اهل سنت والجماعت د علماوو تر منځ پکې اختلاف وي، شخص کولی شي هغه نظر چې د ده په گومان راجح وي، بیان او د عمل لپاره غوره کړي، خو د نورو په نظر انکار نشي کولی؛ ځکه په اختلافي مسائلو کې حق مشخص نه دی او په اجتهادي مسائلو کې د هر معتبر عالم نظر د صواب او خطا احتمال لري، نو په مقابل لوري باید انکار ونشي.

علما کولی شی هغه لاره خلکو ته روښانه کړي، چې پکې احتیاط او خلکو ته گټه ده، خلک هغې ته وهڅوي؛ ځکه له اختلاف څخه وتل مستحبه چاره ده.

الله تعالی په قرآن کریم کې امر کړی: ﴿فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ [النحل: ٤٣] که تاسو نه پوهیږئ، له اهل علمو څخه پوښتنه وکړئ.

نو که یو مسلمان د کوم معتبر عالم په نظر عمل وکړي، له اهل علمو څخه یې پوښتنه کړې او هغه یې عملي کړی، د شریعت له نظره قاصر او گناهگار نه شمېرل کیږي. هیڅ عالم په اختلافي مسائلو کې خپل نظر په خلکو الزامي ندی گڼلی.

هو که یو شخص په ځان د مذهب پیروي لازمه کړي، پدې اړه دوه نظره دي: لومړی دا چې پیروي وربانديې لازمیږي. دویم دا چې نه لازمیږي، په هر حال دا موضوع د بیع الوفاء په اړه کوم اغېز نه لري؛ ځکه د افغانستان خلک په حنفي مذهب دي او د بیع الوفاء جواز او ممنوعیت دواړه د مذهب په داخل کې د علماوو قولونه دي(۱).

---

۱- ابن امیر الحاج حنفی په شرح تحریر کې لیکي: «فَلَوْ الْتَزَمَ مَذْهَبًا مُعَيَّنًا كَأَبِي حَنِيفَةَ أَوْ الشَّافِعِيِّ) فَهَلْ يَلْزَمُهُ الِاسْتِمْرَارُ عَلَيْهِ فَلَا يَعْدِلُ عَنْهُ فِي مَسْأَلَةٍ مِنْ الْمَسَائِلِ (فَقِيلَ يَلْزَمُ) ؛ لِأَنَّهُ بِالْتِزَامِهِ يَصِيرُ مُلْزَمًا بِهِ كَمَا لَوْ الْتَزَمَ مَذْهَبَهُ فِي حُكْمِ حَادِثَةٍ مُعَيَّنَةٍ؛ وَلِأَنَّهُ اعْتَقَدَ أَنَّ الْمَذْهَبَ الَّذِي انْتَسَبَ إلَيْهِ هُوَ الْحَقُّ فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِمُوجَبِ اعْتِقَادِهِ. (وَقِيلَ لَا) يَلْزَمُ، وَهُوَ الْأَصَحُّ كَمَا فِي الرَّافِعِيِّ وَغَيْرِهِ؛ لِأَنَّ الْتِزَامَهُ غَيْرُ مُلْزِمٍ إذْ لَا وَاجِبَ إلَّا مَا أَوْجَبَهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَمْ يُوجِبْ اللَّهُ وَلَا رَسُولُهُ عَلَى أَحَدٍ مِنْ النَّاسِ أَنْ يَتَمَذْهَبَ بِمَذْهَبِ رَجُلٍ مِنْ الْأُمَّةِ فَيُقَلِّدَهُ فِي دِينِهِ فِي كُلِّ مَا يَأْتِي وَيَذَرَ دُونَ غَيْرِهِ». (التقریر والتحبیر: ۳ / ۴۶۸).

نووي - رحمه الله - د مسلم په شرحه کې لیکي: "ثم العلماء انما ینکرون ما أجمع علیه، أما المختلف فیه فلا انکار فیه؛ لأن علی أحد المذهبین کل مجتهد مصیب، وهذا هو المختار عند کثیرین من المحققین أو أکثرهم، وعلی المذهب الآخر المصیب واحد والمخطئ غیر متعین لنا، والإثم مرفوع عنه، لکن إن ندبه علی جهة النصیحة إلی الخروج من الخلاف فهو حسن محبوب مندوب إلی فعله برفق، فان العلماء متفقون علی الحث علی الخروج من الخلاف اذا لم یلزم منه اخلال بسنة أو وقوع فی خلاف آخر. (النووي،(۱۳۹۲هـ) ۲/ ۲۳)

بیا پوه شه چې علما یواځې او یواځې په هغو مسائلو کې خلک منع کوي چې اجماع پرې رامنځته شوې وي، په هغو مسائلو کې منع کول نشته چې اختلاف پکې وي؛ ځکه له دوو یو مذهب دا دی، چې هر مجتهد په حقه ګڼل کیږي او همدا نظر د ډېرو یا زیاترو محققینو په وړاندې غوره دی. په بل مذهب یو حق ته رسېدلی خو هغه چې خطا شوی موږ ته معلوم نه دی او گناه پرې نشته. خو که کوم عالم په نرمی سره خلک له اختلاف څخه وتلو ته وهڅوي، ښه کار دی؛ ځکه علما له اختلاف څخه وتلو ته په هڅولو اتفاق لري په دې شرط چې کوم سنت اخلال نشي یا په بل خلاف کې پرې نه وځي.

همدا راز ملا علي قاري وایي: «ثم إنه إنما یأمر وینهي من کان عالما بما یأمر به وینهی عنه، وذلك یختلف باختلاف الشيء فإن کان من الواجبات الظاهرة أو المحرمات المشهورة کالصلاة والصیام والزکاة والزنا والخمر ونحوهما فکل المسلمین عالم بها، وإن کان من دقائق الأفعال والأقوال وما یتعلق بالاجتهاد لم یکن للعوام مدخل فیه؛ لأن إنکاره علی ذلك للعلماء، ثم العلماء إنما ینکرون ما أجمع علیه الأئمة، وأما المختلف فیه فلا إنکار فیه». (الهروي، (۱۴۲۲هـ): ۱۵/ ۶) پوه شه چې امر او نهی به هغه څوک کوي، چې د هغې چارې چې دی پرې امر یا نهی کوی، په حکم پوه وي او دا حکم په بېلا بېلو چارو کې توپیر لري، که له مشهورو واجباتو او محرماتو څخه وي، لکه لمونځ، روژه، زکات، زنا، شراب او داسې نور، نو ټول مسلمانان پرې عالمان دي. خو که د دقیقو افعالو او اقوالو (واړه مسائل چې پوره روښانه نه وي) څخه وي، یا دا چې د اجتهاد پورې اړه ولري، نو عوام پکې مداخله نشي کولی؛ ځکه د دې چارو منع یواځې د علماوو کار دی. اوس پوه شه چې علما یواځې او یواځې په هغو چارو

کې انکار کوي، چې امت يې په اړه اجماع کړې وي او هغه چارې چې په اړه يې اختلاف دی، په هغې کې هيڅ انکار نشته.

**د بيع الوفاء د ثمنو د زکات حکم**

د هغو پيسو د زکات مکلفيت چې په بيع الوفاء کې د مبيعې په مقابل کې راغلي او له بائع سره دي، پر بائع دی که پر مشتري؟

څرنگه چې دا پيسې اصلا د مشتري ملکيت دی او اوس هم کولی شي چې په خپله يو طرفه اراده هغه له بائع څخه تر لاسه کړي او مبيعه مسترد کړي، نو د قرض سره مشابهت لري او د دين او قرض زکات په دائن باندې دی، په دې بنسټ د دې پيسو زکات هم په مشتري دی.

له بل پلوه مشتري د نوموړو پيسو په عوض کې مبيعه لاس ته راوړې او دوه عوضونه په يو ملکيت کې نه جمع کيږی، نو پيسې بايد د بائع ملکيت او همغه يې زکات ورکړي.

د پورتني استدلال په بنسټ، د بيع الوفاء په پيسو کې د زکات د مکلف ټاکلو په اړه علما درې ډلې دي: لومړی- زکات په مشتري دی، دويم- زکات په بائع دی. دريم- زکات په دواړو دی؛ ځکه په دواړو دليلونو بايد عمل وشي. (ابن عابدين، (۱۴۲۱هـ) ۲/ ۲۶۱) [1]

---

۱- ابن عابدين وايي: «مطلب في زكاة ثمن المبيع وفاء، تتمة: قالوا: ثمن المبيع وفاء إن بقي حولا فزكاته على البائع؛ لأنه ملكه، وقال بعض المشايخ: على المشتري؛ لأنه يعده مالا موضوعا عند البائع، فيؤاخذ بما عنده (بدائع) وذكر في الذخيرة أن زكاته عليهما؛ للتعليلين المذكورين». (حاشية ابن عابدين ج۲ص۲٦۱)

**پایلې**

د څېړنې په پای کې موږ لاندې پایلو ته رسیږو:

۱- زموږ په هیواد کې د ګروي په نوم دود ترون، چې یو لوری عقار، (ځمکه، کور یا دوکان) بل لوري ته د نقدو پیسو په مقابل کې سپاري، چې کله یې پیسې بیرته ورکړې نو عقار به ورګرځوي، په حقیقت کې بیع الوفاء دی.

۲- شرعي ګروي چې د دَین (پور) د تضمین لپاره د ځمکې یا بل د انتقال وړ جنس د پور څښتن ته سپارل دي، چې کله دَین ادا شو، ګانه شوی مال به بیرته خپل مالک ته سپاري، په اتفاق سره جواز لري.

۳-که په عقدونو کې د الفاظو او معناګانو تر منځ ټکر راشي، معنا ته اعتبار ورکول کیږي، نه لفظ ته، نو که بیع الوفاء د ګروي په نوم منعقده شي، بیع الوفاء ګڼل کیږي.

۴- د بیع الوفاء د مشروعیت په هکله د علماوو اختلاف شته، خو راجح خبره دا ده چې دا عقد مشروع دی.

۵- د افغانستان په مدني قانون کې بیع الوفاء مشروع ګڼل شوې ده، قانون د چارواکو امر ګڼل کیږي او د چارواکو امر په دغسې مواردو کې الزام راولي او اختلاف مرفوع کوي.

۶- په اختلافي مسائلو کې د احتیاط او متفق علیه حکم لور ته تشویق او دعوت شته، خو انکار، رټل او په زور منعه کول جواز نه لري.

۷ - د بیع الوفاء په پیسو کې د زکات د مکلف ټاکلو په اړه علما درې ډلې دي: لومړی- زکات په مشتري دی، دویم- زکات په بائع دی. دریم- زکات په دواړو دی، خو راجح خبره دا ده چې زکات په بایع دی.

## سرچیني

- قرآن کریم
- ابن عابدين، علاء الدين محمد بن محمد، (۱۴۲۱هـ) رد المحتار على الدر المختار، دار الفكر.
- ابن تيميه، شيخ الاسلام، أحمد، (۱۴۲۵هـ) مجموع الفتاوى، جمع وترتيب: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم، د مجمع الملک فهد چاپ، مدينه منوره.
- ابن قدامه، (۱۹۹۷م) المغني، د عبد الله التركي او عبد الله الحلو تحقيق، درېيم چاپ، دار عالم الكتب، رياض.
- ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم بن محمد المصري، (۱۴۱۹هـ) الأشباه والنظائر، لومړی چاپ، دار الكتب العلمية، بيروت.
- ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم بن محمد المصري، (۱۹۷۵م) البحرالرائق، دوهم چاپ، دار الكتاب الاسلاميه.
- البابرتي، محمد بن محمد بن محمود، (۱۳۸۹هـ) العنايه شرح الهدايه، له شرح فتح القدير سره يو ځای چاپ، د البابي الحلبي چاپ، مصر.
- البخاري، محمد بن اسماعيل، (۱۴۱۴هـ) صحيح البخاري، محقق: د. مصطفى ديب البغا، دار ابن كثير، دمشق، پنځم چاپ.
- البهوتي، منصور بن يونس بن ادريس، (۱۳۸۸هـ) كشاف القناع عن متن الإقناع، تعليق المصيلحي، مكتبة النصر الحديثة، رياض.
- الحطاب، شمس الدين، محمد بن محمد، (۱۴۱۲هـ) مواهب الجليل في شرح مختصر الخليل، دار الفكر، درېيم چاپ.
- الزحيلي، وهبة بن مصطفى، (ب ت) الفقه الإسلامي وأدلته، څلورم چاپ، دار الفكر، دمشق.
- الزيلعي، عثمان بن علي، (۱۳۱۴هـ) تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق، بحاشية الشلبي، لومړی چاپ، الأميرية، بولاق، مصر.

- الشوکاني، محمد بن علي، (۱۹۷۳م) نیل الأوطار من أحادیث سید الأخیار، دار الجیل، بیروت.
- الکاساني، ابو بکر بن مسعود، (۱۹۰۴ هـ) بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع، المکتبة الحبیبیة، پاکستان.
- المرغیناني، علي بن أبي بکر، (۱۴۰۷هـ) الهدایة شرح بدایة المبتدي، ادارة القرآن والعلوم الإسلامیة، کراچي، پاکستان.
- مجموعة من المؤلفین، (۱۴۰۴ ـ ۱۴۲۷ هـ) الموسوعة الفقهیة الکویتیة، وزارة الأوقاف والشؤون الاسلامیة، کویت.
- مجموعة من المؤلفین، (ب ت) مجلة الأحکام العدلیة، تحقیق: نجیب هواویني، نور محمد کتب خانه، کراتشي.
- منلا خسرو، (ب ت) درر الحکام شرح مجلة الأحکام، بحاشیته: غنیة ذوي الأحکام في بغیة درر الأحکام، للشرنبلالي، دار احیاء الکتب العربیة.
- النیشاپوري، مسلم بن حجاج، (ب ت) صحیح مسلم، محقق: محد فؤاد عبد الباقی، دار احیاء تراث عربي، بیروت.
- النووي، یحیی بن شرف الدین، (ب ت) المجموع شرح المهذب، دار الفکر، بیروت.
- النووي، یحیی بن شرف الدین، (۱۳۹۲هـ) المنهاج شرح صحیح مسلم، المشهور بشرح النووي، دار احیاء تراث عربي، دوهم چاپ.
- نظام الدین بلخي په مشری د علماوو ډله، (۱۴۱۰هـ) الفتاوی الهندیة، دار الفکر، دوهم چاپ.
- الهروي، ملا علي القاري، أبو الحسن نور الدین بن سلطان محمد، (۱۴۲۲هـ) مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح، دارالفکر، بیروت.
- الهیتمي، شهاب الدین, احمد بن حجر، (ب ت) الفتاوی الفقهیة الکبری، د ده تلمیذ شیخ عبد القادر بن أحمد بن علي دا فتاواوې راټولې کړې دي، دالمکتبة الإسلامیة تصویر.
- د افغانستان مدني قانون (۱۳۵۵هـ ش)، رسمي جریده، کابل.